سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۱۱

# انسانيت په وړو، وړو شيانو کې دی

هره ورځ به چي وظيفي ته تلم، د مخابراتو وزارت پياده رو سره نيږدې يوه پخه ښځه کيناسته، په مخ يې د موسکا هيڅ درک نه و او لمر سوځولي څيره يې د غربت تريخ انځور و. يوه ورځ ورغلم، مخې ته ايښي بورس مې ترې واخيست او خپل بوټان مې پرې پاک کړل. هغې ځير، ځير راکتل چي اوس به زه هم د کنجوسو شتمنو کار ورسره وکړم او په مخه به ځم؛ خو لومړی مې لسګون ورته کېښود او وروسته په موسکا ترې روان شوم. بيا به چي کله هم ورتلم، لومړی به يې وموسل او بيا به يې بورس راته ونيو. دلته مې دوې ګټې وکړې: يوه مې د غمجنې ښځې په مخ موسکا راوستله او بله دا چي د انسانانو يو مثبت انځور مې هم ورته پرېښود.

د يوې بلې ورځې کيسه ده، په ارزان قيمت پله کې يو ملګري ته ايسار وم، له موټر ښځه راښکته شوه، دوو کم عمرو ماشومانو له لمنې نيولې وه، يو ماشوم دې هم غېږ کې اخيستی او اوزګار لاس کې يې پلاستيک نيولی و. موټروان ورته دوه بکسې په ځمکه کېښودې. ښځې هاخوا دېخوا وکتل، خو څوک نه و چي بکسونه ورسره يوسي. له دوکان ورښکته شوم، ورغلم او بکسونه مې تر ريکشې ورسره يوړل. ښځې مننه وکړه او له نرم زړه يې ښکلې دعا را ووتله؛ خو چي څنګه بيرته دوکان ته را ورسېدم، يو تک تور ځوان برګ، برګ راکتل، ويې خندل، ويلې: قاري صيب! که دا ښځه نه وای، تا ورسره مرسته کوله؟! دماغ مې ورته وګرځېدل، مالې: بې ځايه خر خر ولې کېږې؟!

نو خلاصه دا چي ادم زاد په ښو اخلاقو او انسانيت ښه ښکاري. زما هغه خوږه انجلی اوس هم نه هيرېږي چي د کابل ــ جلال اباد لويه لاره کې مې وليدله. د فلاينګ کوچ په منځنۍ څوکۍ ناست وم. يو پوخ عمره سړی له څو تور سرو او ۴ ماشومانو سره مخکې ناست و. ماشومانو يې په تږوله لاره شور کاوه. يو کشري زوی يې سروبي کې شيريخ/ ايسکريم غوښته. پلار يې تږولو ته واخيست. د کشري زوی خوله او زنه يې پرې ککړه شوه. ورو يې لور ورته وخندل او بيا يې د خپل کشري ورور خوله ور صفا کړه. زما د خورتوب او وروروليٰ دا صحنه ښايي د عمر تر وروستۍ ورځې هېره نشي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ